
توري به شي ستوري
Ketabton.com
اميرليكوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: **توري به شي ستوري**

د شاعر نوم :: :: :: :: :: :: :: :: ::: :: :: :: امیر محمد

قلمي نوم :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: **امیر لیکوال**

خپروونکی :: :: :: :: :: :: ::**هیواد ادبي یون کلاسیف الله**

چاپ کال :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: فبروري **۲۰۱۵**م

کمپوزوونکی:: :: :: :: :: :: :: :: :: :: عبدالقادر مجرم

د پښتی انځور:: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: ::اسد ګدون

چاپ شمېر :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: (**۵۰۰**) ټوکه

بیه :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: :: (**۲۰۰**) روپۍ

اړیکه :- Amir_likwal@yahoo.com Facebook(search)

Am.likwal@hotmail.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

ګران او قدرمن عبدالقادر مجرم
ته ، چې د خپلې ژبې خدمت يې پر
ځان فرض ګڼلی دی .. او تل يې د
ژبې خدمت کړی دی

( اميرليکوال )

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

دا کتاب د ګران ملګري

**بازمحمد خوديزئي**

په مالي لګښت چاپ شو،

د زړه لـه تلـه ورتـه كـور ودانـى وايـم ، داسـي

خواخان دې تل ښاد او بريالي وي......

( اميرليکوال )

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

ګرانو او قدرمنو!

لـــه ډېــرې مــودې نـــه مـــې دا خيـــال وو ، چـــې شـــعري ټولګـــه چـــاپ کـــړم ، خـــو زړه مـــې نـه شـو کـولای چـې دا کـار دې تـر سـره شـي ، خـــو د ملګـــرو پـــه ټينګـــار مـــې پـــه دې شـــعري ټولګـــه (تـــوري بـــه شـــي ســـتوري) کـــې ځـــو غزلونـــه او نظمونـــه را يـــو ځـــای کـــړل او شـــعري ټولګـه مـي چـاپ کـړه ، هيلـه لـرم چـې ستاسـو تنـده بـه پـرې ماتـه شـي ، پـه دې ټولګـه کـې لـه (۱۹۹۵ څخـــه بيـــا تـــر ۲۰۱۴م پـــوري شـــاعري) پخـــواني او نـــوي نظمونـــه او غزلونـــه را يـــو ځـــای کـــړل شـــوي دي، نوښـــکاره خبـــره ده چـــې ځينـــي نظمونـــه او غزلونـــه بـــه داســـي هـــم وي چـــې ستاســـو د ادبـــي ذوق پـــه تـــول بـــه پـوره نـه وي، خـو داسـي نظمونـه او غزلونـه بـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په کې وي چې ستاسو د ذوق مطابق به وي ، هغه نو بیا په تاسو پورې اړه لري چې تاسو زما له شاعرۍ سره څومره انصاف کولای شئ ، که څه کموالی یا زیاتوالی په کې وي ، بخښنه به کوئ. ........

په اوسني وخت کې په کتاب د سریزې لیکل دود ختم شوی یا ډېر کم شوی دی ، د هغه وجه دا هم کېدای شي ،یو بله نوم لرونکي شاعر یو وخت راته ویلي وو ، که په یو کتاب کې ۲۰ داسي شعرونه وي چې د لوستونکو توجه ځان ته راګرځولی شي هغه کتاب هیڅکله نه ناکامه کېږي ،اوس که د یو شاعر په کتاب درې سریزې ولیکل شي ، نو په دې سریزو کې به هغه ۳۰ یا ۴۰ شعرونه هم شامل وي ، په کومه چې تولګه ښکلې وي ، نو هغه په سریزو کې ولیکل شي ، ډېر داسي خلک شته چې سریزه ولولي ، له سریزه څخه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر شاعري سوچ ، فکر او ټول کتاب ورته په ګوته شي ، او هغه مغزن مغزن شعرونه هم ولولي، کوم چې سريزه ليکونکي له ټولګي څخه د بېلګې په توګه رااېستلي وي ،ځينې لوستونکي سريزې ولولي نور کتاب ويل پريږدي .

هيله لرم چې تاسو به دغه ټولګه ضرور ولولئ او هغه شعرونه په کې ولټوی په کومه چې ټولګه ښايسته او پسولداره ده ........

منته

په درنښت

اميرليکوال کلاسيف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مننه او کور ودانی

د قدرمن عبدالقادرمجرم ،ګران ملګري مطیع الله تابان ،ملګري همایون هېواد ، ګران واجد ترِي، ښاغلي علي محمد سباوون ، ښاغلي اسدګدون ،ښاغلي خـان زمـان کاکړ،عنایت اولسمل،نقیب افغان، هېواد شپون ، محب محسن،روزي خان کاکړاو اعجازخان د زړه له تله مننه او کور ودانی کـوم ، چـې زه یـې کتـاب چـاپولو تـه و هڅولم او هم یې د کتاب د چاپ په چارو کـې زیـار او مرسته راسره وکړه او دا رنګه د نصـیب خـان سـنګریار ،امـان الله فـایق، جمـال ناصـر جمـال، روزي خـان شوق،نسـیم منـدوخېل ، عطـاالله ، نصـیب الله هڅانـد ،ډاکټر هرات ناصر، رزاق پښتون ، شکوروصـال، دیـدار کاکړ،صابر روښان، دوست محمد ، رفیق کاکړ ، ذین الله رودوال ، محمد ایوب الفتي، نعمت پېنتېر ،عطاالرحمان عطایي ، عزیزالله کاکړ ،باز محمدخودیزی، دانش پېنتېـر ،بـاقي کـاکړ، احمـد زیـب ، عصـمت امیـد، وکیـل کرار،عبدالمتین کاکړ ، درویش کاکړ ، محمداسـماعیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګنډپور ، مصطفی داوړ،نوید داوړ، اقبال جان ، محمد يونس ، سالم کاکړ ، سميع الدين ، احسان پانيزئي، نورالله وطن دوست ، محمد رسول دلپزير، صدام خان صدام ،سلام ناصر، شهيم کاکړ، حبيب الله کاکړ ، عبيدمشال، رحمت دلشاد ، ډاکټر شفيق، اسحاق کارګر،سربازاڅکزيي، ظفراقرار،سميع شمشير، عزيزالله کاکړ ، وسيم رضا کاکاخېل،ازادخان ازاد او د هغه ټولو ځوانانو ملګرو مننداوي يم ،چې ما ته يې د دې کتاب په هکله غوره مشورې راکړي دي.

په درناوي

اميرليکوال کلاسيف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مناجات

خدايا! زموږ ورانې کوڅې جوړې کړې
دا ړنګې وېرانې کوڅې جوړې کړې

را ولې خالقه د ښادۍ ورځې
ته يې کړې ودانې کوڅې جوړې کړې

راولې روښانه سهار راولې
هم يې کړې روښانې کوڅې جوړې کړې

دغې تورې شپې لره سبا راکړه
دې خفه اولس لره خندا راکړه

زېرى د الفت او خوشحالۍ راکړه
مينه راکړه ژوند راکړه بقا راکړه

روغ مې کړه په خپل قدرت رنځور وجود
موږه رنځورانو ته دوا راکړه

و مو خندوه دغه خفه زړونه
ته مي کړه په عشق کې مستانه زړونه

وښيه د ښو سبق را وښيه
هم مي کړه په مينه اموخته زړونه

ستړي يو له تورو تورو شپو څخه
ښکلي کړه ژوندي کړه زموږ مړه زړونه

موږ خو د سپرلي ښکلا و نه ليده
موږ خو دلته هيڅ رڼا و نه ليده

دلته خو ظلمونه تکليفونه دي
موږ دلته له چا وفا و نه ليده

واړه فريادونه فريادونه دي
موږ دلته خوږه مسکا و نه ليده

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

مـــورِ ورانـــوو خـــپـلې ښـايستـه کـوځـې
مـــورِ کــړلـــې نـا ښـادي خـــپـلې ښـه کوځې

مـــورِ خـپـلـه تباه کـړل ښـايــستـه کـلـې
مـــورِ کــړلـــې پــه ويــنـــو آلــوده کـــوځـــې

مـــورِ د خـــپـلـو ورونـو مـېندي بوري کـړې
مـــورِ پــه خـپـله کـړلـــې هــدېـره کـوځـې

دا تـــوري تـيـــاري خـــو ســبـــاؤن غــواړي
دا مــــړه وجـــودونــه خـو ژونـــدون غـــواړي

شـــوق غــواړي ځواني غواړي مستي غواړي
کـــور غـواړي سـيـالـي غـواړي سمون غـواړي

دوی هـــم لـــه هـــر چـا ســره دوســتـــي غـواړي
حــق غـــواړي حــســاب غـــواړي تـړون غـــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د آزادۍ زېرى پر موږ وکړه
ته د خپلواکۍ زېرى پر موږ وکړه

راکړه ته له خپل سهاره رڼه ورځ
ته خو د سیالۍ زېرى پر موږ وکړه

ته زموږ ژوندون ته نوى رنګ راکړه
ته د نېکمرغۍ زېرى پر موږ وکړه

روغ مو کړې تازه مو کړې رحمانه ته
ډېر يې مهربانه ، مهربانه ته

هغه کړې راپېښه چې کې خېر وي
هره لاره موږ ته کړې روښانه ته

خدايا ! ستا دربار کې ليکوال خواست کوي
هره سخته کړې راته آسانه ته

..................
19/10/1998

(c) ketabton.com: The Digital Library

# نعت

له خپله ځانه ناخبر یمه بې حده ورک یم
رهنمایي مې وکړه ګرانه محمده ورک یم
په کومه لاره شم روان دلته بلا لاري دي
کومه منزل ته درومي کومه ده بلده ورک یم
یاغي اروا یمه په کوم یوه کالبوت ننوزم
هغه له ما څخه او زه له خپل جسده ورک یم
په تورو شپو کې مې مزل دی سترګې دید نه کوي
دومره ویرېږمه چې وانه وړم په بده ورک یم

په تا نازېږمه له تا نه بغېر هیڅ نه یم زه
ستا شفاعت ستا قرابت غواړم احمده ورک یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

_

اوس که مجبوره یمه ، ستا د بدو زور نه لرم
داسې هم نه ده ، چې ارزښت نـه لرم، پور نه لرم

ډېر ارمـانـونـه مې د زړه په هدیره کې ښخ کړل
اوس امـېـدونه د ژونـدون پـه نـړۍ نـور نـه لـرم

غربت و داسـې انـتـهـا تـه رسـولـی یم اوس
که ضرورت مې شـي پنځه روپۍ پر کور نه لرم

وطن مې وران کړ کوم یو ظلم دی چې و مې نه کړ
بـیـا هـم دعـوه لـرم چې داغ پـر لـمـن تـور نه لرم

لا پـې وهـم چې مـا ډیـلی او اصـفـهـان نیولی
که رښتیا ووایـم اوس هـم زور د لاهـور نـه لـرم

**لیکواله !** خـود بـه پـه کې ژوند د مسافر تېروم
پـه داسې کلي کې چې کـور نه لرم ګور نـه لـرم
.............
02/04/2010

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښه دبدبه مې وه دا نن چې بې اثره شومه
لکه چې زه د نظربازو له نظره شومه

په چا مې ناز کاوه په چا چې به مې فخر کاوه
ډېر نا امیده او محرومه يې له دره شومه

فنکار سړی يمه په هر هنر او فن پوهېږم
په شته هنر کې په دې ښار کي بې هنره شومه

ځينې ملګرو په چل ول کي مبتلا کړم داسې
چې چا ته خپل ومه هغوی ته بې باوره شومه

ما ويل مينه قُرباني غواړي هغه وويل
هم دغه مينه ده چې خلاص په کې له سره شومه

رخصتېدم چي له يارانو ډېر مي وژړلو
ليکواله زه چې را روان له پېښوره شومه

12/01/2007 حيات اباد پېښور

توري به شي ستوري ************************ امير ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پای کې هم رقیب ولاړ دی هم په سر کې رقیب
څه لوبې وکړې د جانان په ویجاړ در کې رقیب

غوټۍ یې وشلولې پاڼې یې زرې زرې کړې
لاس اچولی دی په داسې شور او شر کې رقیب

د خپلې مینې پټ رازونه ترېنه پټ کړم څنګه ؟
دننه کور کې راته ناست دی هم په ور کې رقیب

کومه بدله را څخه اخلي په دې نه پوهېږم
چې سوځوي مې په ژوندون په دې محشر کې رقیب

سپینې کوترې نه په کوزه نه په بره پرېږدي
تېز لکه بازدی په دې خپل وحشي نظر کې رقیب

په هدیره یې رابدله کړه ودانه مېنه
دی اخته شوی دی د شر په بد اشر کې رقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

اسمــانـه نبه شو، چې رسـوا شو هر چا وپېژنده
نن دې را وشرماؤه تــا په کوزاو بـر کــې رقــيب

نن يې حال دا دی چې و ځګ تـه هم لاسونـه وهي
نــن لاهــو شـوی دی په داسې سمندر کې رقيب

**ليــکواله**! دومره بد يې وکړل چې ثاني يې نشته
لــکـه چې نه لري زړګی په خپل ځيګر کې رقيب

---

05/01/2002

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

کـــه د خـــدمت او د بـــقا لـــه کاره وبـــاسم ځان
داسې بـــه زه هـــم د هـــر چـا لـــه کاره وباسم ځان

څه کامیابي به لاس ته رانه وړو ، که داسې وکړو
چې تـــه زمـــا او زه دا ستـــا لـــه کاره وباسم ځان

چې مې د قام په ګټه نه وي، نه د دین، نه دنیا
نـــو ولې هسې خـــامخـــا لـــه کاره وباسم ځان

زمـــا بـــچی به مـــې سبا فرمان تـــه غاړه نـــه ږدي
زړګـــیـــه نن کـــه د بـــابـــا لـــه کـــاره وباسم ځان

لـــږ مـــجبـــوري لـــرم جـانـانه بې هـــمته نه یم
پـــه بـــې وسۍ کـــې نن سبا له کاره وباسم ځان

**لـیکواله !** دا وارې بخښنه کوه، ؤ مې بخښه
بـــیا سزاوار یـــمـــه کـــه بیا لـــه کاره وباسم ځان

------------
23/08/201

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

که د اغیارو د سجدو نه خپل تندی وساتي
هغه سری به خدای تر هر چا ګرندی وساتي

د زړه په وینو به یو څو شعرونه داسې لیکم
له مرګه پس چې مې په خلکو کې ژوندی وساتي

چې یې په هر چا باندې وښکاري نو غاپې ورته
زورور خلک لکه سپی داسې سړی وساتي

چې یې باور نه وي په خپل قسمت او خپلو متو
داسې وګړي په ګوتمیو کې غمی وساتي

چې د **لیکوال** په خلاف یار هم د اغیار په خوله شي
په داسې وخت کې به روغ څنګه خپل زړګی وساتي

-----------
19/07/2011

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

دا مې يقين دی روغ رمټ او سلامت به راځي
ځان به په خپله ملامت کړي ملامت به راځي

ما به پخلا کړي ننواتې به مې کور ته راشي
ورسره مله يو څو ملګري د مالت به راځي

خبر دی که اوس يې د ښمنان بده روزنه کوي
يو وخت به پوه شي په دې لاره په عزت به راځي

زموږ خبرو ته به خامخا د پای ټکی ږدي
زموږ جونګړو له قاصد د حکومت بـــه راځي

پـه دې د ښتونو کې به بيا سپرلی ګلان وسپړي
په دې وطن کې ښکلا ګانې، د جنت به راځي

بيا به د ګران عبېدالله مستې سندرې اوري
د کندهار د ښار شوقيانو کې الفت بـه راځي

دغـه خواږه خواږه ښېتونه او رنګين نظمونـه
**ليکواله !** ستا په شاعری کې برکت بـــه راځي

---

28/06/2009

(c) ketabton.com: The Digital Library

ه

## امن راوستل په کار دي

ګرانه په کلي کې دې حال څنګه دی؟
د رقيبانو جوړ جنجال څنګه دی؟
سپينږيري اوس سره کښېني او که نه؟
خپلې شملې نېغې ساتي او که نه؟
زلمي ملي اتڼ کوي او که نه؟
څني و ډول ته تاووي او که نه؟
پېغلې ګودر لره راځي او که نه؟
منګي په لپو ډکوي او که نه؟
لاسونه سره تمبل وهي او که نه؟
زړونو کې مينه پا څوي او که نه؟
بنګړي په لېچو شرنګوي او که نه؟
هيلۍ اوبو لره راځي او که نه؟
سپينې کوترې په سېل ځي او که نه؟
ځوانان محفل تازه کوي او که نه؟
مطرب تارونه ږغوي او که نه؟
شهباز په ګوتو نڅوي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ما اوريدلي دي چې اوس په کلي
توره بلا او سپين ښامارګۀ شوی

نفرت نفرت دی بربادي جوړه ده
غم او ماتم دي ښار په ښار ګۀ شوی

پر هر هنر اوس پابندي ده هلته
ورکه د هر چا خوشحالي ده هلته

تر تو پک لاندې زندګي ده هلته
هر څه لوټ شوي بربادي ده هلته

د ډېرو ښېې په زولنو تړلي
لاس د فنکار په ځنځيرو تړلي

د مطرب ګوتو نه شهباز ورک دی
د محمود سترګو نه اياز وک دی

حقيقت ورک دی هم مجاز ورک دی
په دې کوڅو کې ږغ د ساز ورک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ږغ د منګي ورک دی، ټپه ورکه ده
هر چا نه خپله ترانه ورکه ده

اوس د بارودو تور دودونه ګرځي
د ېرو ېرېدونکي اوازونه ګرځي

څوک دي چې مونږ برباد وي لګيادي
مونږ په اورونو ګډوي لګيا دي

زمونږ د قام په بربادي لګيا دي
تا قتلوي ما قتلوي لګيا دي

په دا سې وخت کې ګرانه سوچ په کار دی
دښمن مو څوک دی څوانه سوچ په کار دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

کلي کې امن راوستل په کار دي
کلي کې هر څوک پوهول په کار دي

د ښامارانو مخ نیول په کار دي
د مشرانو یو کېدل په کار دي

لویه ملي جرګه کول په کار دي
مینه او امن راوستل په کار دي

---

یادونه: دغه نظم مې په کال ۲۰۰۷ کې په حیات اباد پېښور کې لیکلی وو ، او په میاشتنۍ لیکوال مجله پېښور کې د فبوري د میاشتې ۲۰۰۸ ګڼه کې خپور شوی هم وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

زه چې دومره کمه شاعري کوم
بيا نو منظمه شاعري کوم

شا و خوا حالاتو ته به ګورمه
دوی سره به سمه شاعري کوم

اوښکې د هرچا سترګو کې وينم
کله چې له غمه شاعري کوم

خلک په آسانه پوهول غواړم
ځکه څو رقمه شاعري کوم

خيال په کي د بحر او رموز ساتم
تل داسې محکمه شاعري کوم

زه **ليکوال** ښېګڼه د ولس غواړم
زه په دغه تمه شاعري کوم

-----------

18/09/2010

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

سره پېوند به مو خپل ســر او بدن وي او که نه؟
زمـــورږ خــوارنو په نصيب به کفن وي او که نه؟

دلــتــه خو تـا وينم همېش چې په غـصه غـصه يې
ووايــه جنګه ! چــې اخـر بــه امــن وي او کـه نـه؟

څــومــره بې ځايه قرباني زمورږ خپلوانو ورکړې
لــه غمـه لـــرې بــه زمورږ ګران وطن وي او که نه؟

هيڅ نه پوهيږم چې سپرلي کوم خوا ته کډه وکړه
په دې دښتونو کې به بيا شين چمن وي او که نه؟

**ليکواله** اوس خو لا پوهان او اديبان په کې شته
سبا بــه دلــتــه څــوک ملګري د فن وي او که نه؟

-------------------

**28/11/199**

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

O

هیڅوک خبر نه شؤ ، رازونـــــــــه پټ شول
فـایلونه بند شولو ، کېسونـــــــــه پټ شول

پــــه ددې تــــور مــخــي او بد بخته وخت کې
روښـان فـکرونه ، څراغونـــــــــه پټ شول

نــه چـا تــپــوس وکــړ، نــه څــوک خـبر شول
بې لـه تصدیقه دېر لاشونـــــــــه پټ شول

وخت مــې د یـــار جـــبین کـــړو داسې ګـــونجې
چې یې شینکي شینکي خالونـــــــه پټ شول

د خـــپـلـواکۍ پـــــکـــې خـــبـــرې چـــې وې
د هـــغـو خـلــکو کتابونـــــــــه پټ شول

لـــیـــکــوالــه ! چـــېـــرتـــه بــه یـــې اوس لټوم
چې پســې تـلمه هغه پلونـــــــــه پټ شول

16/11/2011

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

خاونده بیا کړې ځنګ په ځنګ ملګري
دا غیرتي د نام و ننګ ملګري

مورې د خوشال د نظریې خلک یو
دوی دي له وخته د اورنګ ملګري

د هر غماز مقابله به کوو
ځو به په وړاندې د غورځنګ ملګري

ښکلي یې غواړو په کردار هر کله
نه یو د چا د ښکلي رنګ ملګري

امن ته هیڅوک هم نظرنه کوي
دلته ډېر خلک دي د جنګ ملګري

**لیکواله** ! اوس د جنګ انداز بدل دی
پوه کړه په علم او فرهنګ ملګري

20/08/1998

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

اوس بـه مـحـفـل بدلوم، یار بدلوم ، ځان بدلوم
داسې وخت راغی خامخا به خپل زبان بدلوم

سپینه خبره به د سپین او تور تر مخ نه کوم
دا هم هنر دی چې لـه وخت سره بیان بدلوم

چې تر منزله مې مزل وي بې خطره ځکه
په یو او بل شکل کې اوسمه کاروان بدلوم

بې وفا نه یم خو د وخت د مجبورۍ لـه لاسه
خپل فرشته جانان یو څه وخت په شیطان بدلوم

**لیکواله** اوس ګاونډیان هم د بلاګانو مله دي
ځکه خپل خوږ کلی پرېږدمه خپل مکان بدلوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

أوس يې موږ پېژنو چې زين د چا دی آس د چا دی
تــوره د چـا ده او د تــوري شـا تــه لاس د چــا دی

دغــه زمـــوږ د کــلي پــير خو دومره نه پوهېده
اوس پسې ګـــرځـم چې له ده سره تماس د چا دی

دا چې زموږ په کور او کلي کي ورانی جوړوي
دې ترهګرسره پاسپورټ د چا دی پاس د چا دی

وخت بــه د هــر څه نـه پرده لري کړي بيا به ګوره
چـــې حــزب الله د چا ملګری دی حماس د چا دی

**الله** خبــر دی، چــې بــيـا کـومه منصوبه جوړوي
***ليکواله*** ! بيا په پوري کلي کې اجلاس د چا دی

------------
02/07/2006

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

په خپل لاس و ځان ته خپله اجل جوړ کړي
څوک چې ځان له بې بنياده محل جوړ کړي

زه چې يو دښمن له منځه څخه يوسم
دوی زما بربادولو ته بل جوړ کړي

ما وژل غواړي او ما له کلي باسي
هره ورځ تور غمازان داسې چل جوړ کړي

چې مدام په سرو اورونو کې سوځېږي
څوک به هغه سوځېدلی کابل جوړ کړي

د ليکوال ورانه دنيا به شي ودانه
که ايمان له ځان سره کړي عمل جوړ کړي

-------------

12/11/200

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

زړګـیـــه رڼـا ښـه ده خـیـال دې خـام مـه جـوړوه
لـــه سپین روښـان سـهـاره تـورماښام مه جوړوه

زه تـل ژونـدی ژوندی یم، ما مرګ وژلی نه شي
زمـــا و مـــرګ تـــه هســـې د چل دام مه جوړوه

چـې بـار زغـمـلی نه شي بنیادونه وي کچه
د داســې دیــوالـونـو پـر سـر بـام مـــه جـوړوه

چـې ستـا خـبـرې نـه مني ، تـا پـه کـاڼو ولي
د داسې مـقـتـدیـانـو ځـان امـام مـــه جـوړوه

آینـه که یې روښانه وي، خدای په کې لیدی شې
ګـردونــه د نـفـرت زړه کې مــدام مـه جوړوه

لـیکـوالـه بـخـښـل ښه وي ، بدل مه اخله هر کله
قــاتـــــل تــــه چـل د مـرګ د انتقام مه جوړوه
12/01/1996

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

د مستو هيلو ارزوګانو سلسله ختمه شوه
يو بل پړاؤ د ژوندون تېر شو، تماشه ختمه شوه

په ژړغوني رغ يې ووېل په مخه دې ښه
نور مو تر منځ د محبت هره رشته ختمه شوه

نغمه خاموشه، سندرغاړي خوله ګنډلې ناست دي
سندره ورکه شوه په کلي کې ټپه ختمه شوه

ځه خپل يادونه دې له ځانه سره يوسه بس کړه
اوس دې زما په زړه اختيارختم، قبضه ختمه شوه

شوګير وهلي يې چې خلک در خبر نه شي نور
پاڅه لالیه سحرګاه ده توره شپه ختمه شوه

ليکواله ! نن چې رقيب تا ته ننواتې راځي
دا هم دوکه ده داسې نه ده چې لانجه ختمه شوه

--------- -----
19/01/2007

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ستا د راتلو په ارادو پرېوتم
د ګل په تمه پر اغزو پرېوتم

نازکې ښکل مې کړې په داسي چل کې
غبار شوم ستا پر اننګو پرېوتم

مرګ ته دې ورکړمه خبر دې نه کړم
ژوندونه نن دې له اوږو پرېوتم

بس بې اختیاره شومه ونړېدم
لکه پتنګ پر سرو لمبو پرېوتم

پر مځکه ولوېدم ټوټې ټوټې شوم
چې کله ستا له مړوندو پرېوتم

**لیکواله** ورک شوم د جانان له سترګو
چې زه یې کله له بڼو پرېوتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې لوبې د سرونو کړي اکثر نه پاته کېږي
که تاج وي که بې تاجه داسې سر نه پاته کېږي

چې خلک يې خبر وي په هر چل او دام پوهېږي
په دا رنګه بازار کې جادوګر نه پاته کېږي

د بل د کلا ور که څوک په کانو باندې ولي
د هغه چا هم خپل د کلا ور نه پاته کېږي

که هر څو مره زاری ورته کومه ده مشکله
هغه هم خامخا ځي مازيګر ،نه پاته کېږي

چې عقل ورسره نه وي مدام دا رنګه خلک
هر څو که زورور وي، زورور نه پاته کېږي

ليکواله په يوه خوله کې لري، چې څوک دوه ژبې
د هغه چا په خوله د چا باور نه پاته کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

لکه غمجن چې په موسکا باندې خپل غم پټوي
داسي مـې يار په خپل مړوند د سترګو نم پټوي

مـفـاد پـرست لـه مجبوری د ولس ګټه اخلي
د ضـرورت پـه وخـت پـه خونو کې غنم پټوي

نه پرې پوهېږم کوم مسلک دا اجـازت ورکوي
و جـومـاتـونـو ښوونځيو تـه چې بم پټوي

نـاقصه مـال پـه لويه بيه په چل ول خرڅوي
سـوداګـران خـلـک عـېبونه په قسم پټوي

نن له **ليکواله** سـره داسې سپکې سپکې کېږي
څـوک يـې هـنـر قـتلوي څوک تربنه قلم پټوي

**۵/۴/۲۰۱۰**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بې وخته قيامت

لا شپېلۍ کې په دوه ځلې
اسرافيل پوکلي نه دي
لا ژوندي دي وجودونه
ترې ارواح وتلي نه دي

لا د دې نړۍ وګړو
قيامت ليدلی نه دی
لا اسمان کې ستوري بربښي
له غرب لمر ختلی نه دی

لا د ژوند له روغه تنه
ژوندۍ سا وتلې نه ده
لا خزان د قيامتونو
دا نړۍ خپرلې نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

لا سهار کې هیچا کله
توري شپې لیدلي نه دي
لا د جال د چل په دام کې
انسانان بند کړي نه دي

خو په مورې باندې قیامت دی
ټول ودان کلي مو وران شو
د اورونو په لمبو کې
هر ګلشن وسو خزان شو

دا بې وخته قیامتونه
پر مورې راغلل څو څو واره
کړاوونو، لوږې ، تندې
له ژوندونه کړو بېزاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

نــه شــپـلـۍ د اســرافـیـل ده
نــه د جـــال را پـــاڅـېــدلـــی
نــه تــوبــه ده بــنـــده شـــوې
نــه لـــه غـــريـــه لـــمـر ختلی

تــــول جـــهـــان کې خوشحالي ده
تــــول جـــهـــان بـانـدې اختر دی
پـــــه مـــوږ ســره اوروـنـــه اوري
او پــــه مـــوږ بانـــدې محشر دی

څـــه بـــې وخـتــه زموږ پر کلي
طـــوفـــان راغـــی قـیـامـت راغـی
د عـــــزت لـــــه ودان کــــــوره
عـــزت لاړه ، ذلـت راغـــــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

خو په هر يوه قيامت کې
انسانان بې شمېره مړه شول
نه يې قبر ، نه نښان شته
چې څوک څه شو او څوک څه شول؟

دا بې نخښې ، بې نښانه
دا بې وخته قيامتونه
زموږ ژوند يې را تياره کړ
ټول يې مړه کړل څراغونه

کوټه 18/10/1998

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

څـه مـې ورتـه وویـل پـه زړه خبره نـه راځـي
ولـې مـرور شـو او پـه څـه خبره نـه راځـي

سوچ کـې ورتـه زه د هرې ګیلې او مـانې وکړمه
مخامخ چې ورشم نو پر خـوله خبره نـه راځـي

هرځای کې کیسې به یې د امن خوشحالۍ کېدې
یـاره اوس لـه هغه ښـاره ښـه خبره نـه راځـي

تـل یې ویل روح او زړه مې دواړه در بخښلي دي
هغـه بـې وفـا اوس پـر هغه خبره نـه راځـي

خلک خو **لیکواله** محبت کې خپل سر هم ور کړي
ستا بد بخته یـار خو بس په نه خبره نـه راځـي

-----------

۰۱/۰۹/۲۰۱۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

٥

نه خېژي په ژوند کې د سړي ارمان
هر څو که پوره شي، بيا هم وي ارمان

ګوره چې يې جوړ کړلو جنت ځان ته
ونه ليد شداد ، وخوړ مرګي ارمان

ډېر مې له خزان سره وخت تېر کړلو
زړه کې مې هر وخت وي د سپرلي ارمان

صبر شه مرګيه چې ژر را نه شې
لا مې پوره نه دی په ځواني ارمان

ګل ځواني دې خاورې مه شه ګل ياره
و دې خېژي ستا په زندګي ارمان

څه چې کېږي ، و دي شي پروا نشته
هسې دې ليکواله ژړوي ارمان

---

06/06/2006

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې تېت شوي وي له حد او له معیاره
له هغوی سره هیڅوک نه ځي پر لاره

په سپرلي کې د خزان سپیره موسمه
یار دې مانه، زه دې لرې کړم له یاره

چې په بیه او سودا ښه پوهېدلو
هغه خلک وایستل له ښاره

په اختر کې هم ماتم او غلبلې وي
جنازې وځي له کلي او دیاره

ستا له لاسه ناوې کونډې، مېندې بورې
رنګ دې ورک شه، توره جنګه ګناهګاره

زه په خپل ګرېوان کې خپله څېره وینم
ناصحان دې راته نه نیسي هینداره

په سندرو مې، زخمي زړګی تکور کړه
اې **لیکواله** یو وار راشه خدای د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ماښام لا روغ وي خو شي ناګهانه مات په شپه کې
زما لـه زړه سره مـدام کـېږي واردات په شپه کې

راشـه غـمـونـه رانـه لـرې کـړه، د خدای د پاره
یــو ځـلې بـیـا را سره وکړه ملاقات په شپه کې

فـکر تــه راغـلو څـو شعرونه خو بل نه دی څراغ
چـــیرتـه قـلم به لـټوم چیرته دوات په شپه کې

په ورځ مې ستړي انسانان زړه ته وسواس اچوي
دغسې چـل راســره بـیا کوي جنات په شپه کې

کـه دې ژړلــي دي هـم تا پـه کې خندلـي هـم دي
دا بـــه مـنې **لـیکواله** دا وي کرامات په شپه کې

---

۰۲/۰۷/۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

مـــا د ايـــمـــان پـــــه اوبـــو ولـــلـــي مـــيـــنـــه
مـــا لـــــه هـــــر چـــا ســـره پـــالـــلـــي مـــيـــنـــه

مـــا د دوستـــی لاســـونـــه دوی تـــــه ورکـــړل
وه د دوی زړونـــو کـــــي نـــا ولـــــي مـــيـــنـــه

پـــــه هـــــر حـــالـــت کـــي بـــه زه تـــا يـــادوم
زمـــا پـــــه زړه کـــي ســتـــا ســپـــڅـــلـــي مـــيـــنـــه

د انســـانـــانـــو کـــړو اوورو تـــه گـــوره
چـــا وي ســـاتـــلـــي چـــا شـــړلـــي مـــيـــنـــه

دوی د نـــفـــرت تـــخـــمـــونـــه کـــري
دوی د وحـــشـــت پـــــه تـــيـــغ ريـــبـــلـــي مـــيـــنـــه

بـــل تـــه زړه نـــه ورکـــوي مـــا نـــه بـــغـــيـــر
لـــيـــکـــوالـــه امـــا يـــي ازمـــويـــلـــي مـــيـــنـــه

نوري به ښې ستوري ************************** امير ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

تـــر څـــو بـــه دغـــه بـــد رواج وي دلـــتـــه
تـــر څو بـــه دا د ټـــوپـــک راج وي دلـــتـــه

چـــې د ولـــــس پـــه ژبـــه نـــه پـوهـېـږي
هـــم د هـــغـــه پـــه ســـر بـــه تاج وي دلـــتـــه

د امـــن نـــوم بـــــه تـــش په خـولـه یادوو
بـــیـــا بـــه هـــم جنګ د جنګ علاج وي دلـــتـــه

څوک چـــې د مـــینـــې پـــه طلـب پســې وي
هـــغـــه ســـرې څـــو بـــه تـــاراج وي دلـــتـــه

لـیـکـوالـه ! څوک شـتـه چې مې وخندوي ؟
کـه بـه مـې تـــل خـــراب مـــزاج وي دلـــتـــه

---

۱۲/۵/۲۰۱۴ کلا سیف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې مې زړګی رغېږي کال به تېر شي
دغه دوران ستا د جمال به تېر شي

سپرلی به راشي بیا به سیل کوؤ
بلا دې واخلم پشکال به تېر شي

عیسی به راشي د انصاف مېدان ته
دغه ظلمونه د دجال به تېر شي

تل به هم نه وي دا ویرجن وختونه
لږ صبر وکړه دغه حال به تېر شي

شي به نیمګړي ارمانونه پاتې
ناکامه عمر پر **لیکوال** به تېر شي

---------------------

۲۹/۱۲/۲۰۱۳ کلاسیف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

خبر دی که را مات دې کړو وزر خلک خبر نه دي
اوس یې کړه تکور تربوره زر خلک خبر نه دي

غر د دروازې د څنځیر وپېژنه راغلمه
زر کوه را خلاص کړه د کورور خلک خبر نه دي

راشه په خپل منځ کې روغه وکړو، درېم څه کوو
لا زما او ستا په دغه شر خلک خبر نه دي

اوس خو دیوالونه هم غوږونه لري، چا وې چې؟
ستا د کور په حال باندې بهر خلک خبر نه دي

دا چې یې تر تا نظر هر کله اړولی دی
دا خو دې **لیکواله** په هنر خلک خبر نه دي

---------

14/02/2014

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

-

وي چې ازاد ته يوه عام خبره
هغسې نـه وي د غلام خبره

هغه يې هر کله تايد کوي، چې
کـېږي زمـا د انتــقام خبره

چې په کې ګټه وي زما د ولس
کوم بـه دا رنګـه مدام خبره

تل د هغـه مُلا ملـګرى يمـه
چې پر ممبر کوي د قام خبره

ليکواله زه چې يې اغاز کوم،دوی
وي رسـولــې تـر انجام خبره

۰۳/۰۳/۲۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

–

که هر څه اوږد شي که هر څومره جنګ دوام ولري
قسم په خدای دی که دا ستا ارمـان انجام ولري

عجیبه نــه ده مــحبت کـې داسـې کـیږي مدام
سپین پوستی یار که څوک ملګری سیاه فام ولري

هـــغـه سړی بـه پـه ژونـد کله هم ناکامه نه شي
چې مـلا تـړلي پـه خـپل ځان پسې د قام ولري

چـې پــه دیــدن بـاندي یې ماته کړم د عمر تنده
دغـه سپـوږمۍ دې تر سهاره خدای پر بام ولري

د هر دښمن سـترګې به سوځي بد به نه ور ګوري
کــه مشــرانــو تــه خــپــل خـلک احترام ولري

**لیکوال** ته دومره روزي ورکړې پاکه ربـه چې بس
و چا ته اړ نــه وي، مــړی سهار، مــاښام ولري

---

۱۲/۰۸/۲۰۱۳ کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

-

يوازې نه کېږي ژوندون په کې مل هم په کار دی
چې تر منزله پورې تګ وي ، مزل هم په کـار دی

اوس و کردار ته خلک ګوري او ګفتار نه مـني
لـه نـصيحته سـره دلـتـه عـمـل هـم پـه کار دی

مــنـم چې ښــه وي ســادګـي ،پـاکې ساده خبرې
خـو لـه حـالاتـو سره څه نا څه چل هم په کار دی

ښه وي چې وشي هر يو کار په سوچ او فکر سره
خو توکل په دغه هکله کول هم په کــــار دی

و ښه ژوندون ته که په زړه کې نـيـکي هيلي لرو
**ليکواله** مـوږ ته يو لار ښود او اتل هم په کار دی

---

**02/03/2014**

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ډېرې ویرې یې ساتمه پټ په خول کې ژوندون
ګـــرانـــه کـــومه زه په دا رنګه ماحول کې ژوندون

چې ارمـانـونـه مې پـوره شي هـم تـر هغـه وختـه
زه درنه غوارمه خاونده په کچکول کې ژوندون

چې د وحشي لېوۀ لـه داړو یې خوندي وساتم
ما له مودو نه خوندي کړی دی په شپول کې ژوندون

کـلـــه یـــوه پـلـــه درنـــه شي کـلـــه بـلـه پلـه
ډېر مې تللی دی له مرګ سره په تول کې ژوندون

سپرلی به راشي زرغونې به کړې دا مړاوې لښتې
بیا به پیدا شي په رامبېل، چامبېل، غاټول کې ژوندون

یـــوازې تـــه نـــه یـــې چـــې ژاړې فـریـادونـه کـوې
**لیکواله** زۀ هم تېرومه په تـاتـمـول کې ژوندون

---

19/11/2012

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

خــــامــخـــا بـــه اوس بـــدلـــېږي دا حـالات
نـــــه بـــــه وي زمـــــا هــــم د پـخوا حـالات

څــــــوک مـــبـــارزه کـــوي بـــدلــــون غـــواړي
څــــوک بـــدلـــــول غــــــواړي پـه دعا حالات

مــــــه را ځـــــه يـــــو ځـــــه مـــوده لامـه راځه
ســـــم نـــــه دي د کـــلــــي نن سبا حالات

هــــــيــــــــخ انــــــدازه نـــــه شـم لګولی چې
دومـــــــره غـمـزده کـــړل دلـــتـــه چـا حالات

تـــــبـــــر بـــــه شـــــي **لـيـکـواله** هيله من يمه
نـــــه بـــــه وي بـــــد مــــرغـه تل زما حالات

۱۰/۰۲/۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ګـوره و کـردار تـه پـه قـولـونو بـاور مـه کوه
تــل د بـــې وفـــا پـــه قـسمـونـو باور مه کوه

وګـــوره اغـــزي دې پـــورې اورې تـــر زړه ووتـل
مـا درتـه ویــل چــې پــه ګـلـونو باور مه کوه

نــیمـه شپه د یو او نـیمه شپه وي د بل غاړه کې
ورک دې شي پـه داسې مړوندونو باور مه کوه

څومره چې ظاهره دي باطن کې دومره چېرته دي
اې سـاده د ښـکـلو پـه رنـګـونـو بـاور مـه کوه

هر څومره که سخت وي خو بنیاد چې کله نه لري
هــیـڅ کـلــه پــه داســې د ښـوالـونو باور مه کوه

هــر څـه کـه دې زړه غواړي **لیکواله** هغه څه کوه
پربــږده د هــر چا پـه تـهـمـتونو باور مه کوه

__________
۱۲/۰۴/۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

اوس د هــــر ځــه نـــه ځان رانغــاړي تنبتي
تــولــې کــوځــې يــې شــوې ويــجــاړي تــنبتي

د ظـــالـــمانـــو لــه وحــشــتــه ځــځــه
هــر څــوک پــه چــيغــو چــيغــو ژاړي تــنبتي

دا جـــنګ ځــپلــي بـــه اوس چـــيــرتــه درومي
دغـــه لـــه چـــا نـــه مـــد د غـــواړي تـــنبتي

پـــه مـــحـــلـــونـــو هـــم اورونـــــه بـــل دي
د هــر چـــا خـــولـــه کـــې وچـــې لاړي تنبتي

هـــيـڅـوک مـحـفـوظه پـه کـې پاتې نه شول
هـــنـــرمـــنـــدان او ســـنـــدرغـــاړي تـــنـــبـــتـــي

---

۱۱/۰۵/۲۰۰۷ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چــې زمــا اوښکې څـڅـېدلې او تـا و نه ژړل
زمــا سـلـګۍ دې اورېــدلـــې او تـا ونه ژړل

اوس چې په تا راغلو هغه وخت به در یاد شي ضرور
چـــې زمـــورږ کــډې بــاربـېدلې او تـا و نه ژړل

زه چې په ویر باندې اخته ومه تا هیڅ ونکړل
ګـرانــه لالـیـــه مـا لـیــدلې او تـا و نه ژړل

افسوس په دې کـوم په غم زما شریک نه شولې
د رقــیــب خــوا کــې نـڅـیـدلې او تـا ونه ژړل

**لیکواله** ! یا خوپه زړه سخت یې او یا راز دی په کې
کـلـه چــې مــا نـه بـېـلـېـدلې او تـا ونه ژړل

---

۲۰۰۹/۰۵/۰۴ کلا سیف الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

په ربابونو پابندي ده په تمبل پابندي
څوک دې نه وايي ترنم کې په غزل پابندي

ښاروان به اوس داوښ له غاړې جرسونه باسي
په شرنګا شرنګ هم لګېدلې ده دا ځل پابندي

اظهار د مينې به کولی نه شو خپل دلبر ته
تر څو به دلته وي هم داسې مسلسل پابندي

دلته خو هر سړی یو بل ته سپکې سپورې وايي
لا خو تر اوسه پورې نشته پر ښکنځل پابندي

ځکه له هر چا څخه پټ په توره شپه کې در ځم
ستاسو کوڅه کې ده په ما رنګه پاګل پابندي

د خپلو خلکو حمايت پر بېرډه **ليکواله** ګڼې
ستا په قلم به ولګېږي دلته تل پابندي

01/09/2008

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

## ورکه شوې نغمه ...

دا د تـارونـو ریـږدېـدلـې ژبـه
د زړکي خوښ خواږه غږونه

د دې تـارونـو لـه ږغـونـو سـره
چې به شول پورته مېږني ږغونه
زړونو سینو کې به تو پونه وهل
چې به په هی شول غرځني ږغونه

*****  *

چې لـه تـارو بـه زمزمه پـورتـه شوه
ورسـره سـمـه بـه نـاره پـور ته شوه
چې ځنګه ساز ؤ،هم لنډۍ داسې وې
د هر چا زړه کې به جذبه پورته شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ځوانان به ورانديږ شول محفل به تود شو
چا بـه مـېړونـه او غـازيـان ستايـلو
ډېر به خوشحاله شو سپين ږيري له دوی
چې چا به خپل خپل مشران ستايلو

*****  *

په دې ځوانانو کې به داسې هم ؤ
چې به يې خال او يا پېزوان ستايلو
چا بـه د ميـنې صـفـتـونـه کــول
چا به کې ورين مخ د جانان ستايلو

*****  *

دغـه يــوازې عـجـيـبـه نـغـمـه وه
چې بې لـه ډولـه او بـې تـالـه به وه
خو پـه سري بـــه ډېــره ښـــه لګېده
ډکـه لـه خــونـد او لـه کماله به وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

نغمې به سم ورسره چيغه کړله
چې به شول پورته فريادي ږغونه
له هره تاره به ژړا وتله
چې به په وير شول ارماني ږغونه

****** 

د چيغکباني لاس به وريږدېده
چې سندرغاړي به لندۍ ويلې
له غبرګو سترګو به يې اوښکې راغلې
چې يې غمجنې کاکړۍ ويلې

****** 

دومره اثر به په تارونو کې و
چې ورسره به اوريدونکو ژړل
ريږدېدل زړونه د تارونو په شان
محفل کې ټول ګډونکونکو ژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

خو ډېر افسوس چې نن هم هغه نغمه
زمــوږ پــه خيال د اورېدلو نه ده
مــوږ د پــرديــو تــرانې خــوښــوو
لنډۍ تېــه مــو د ويــلــو نــه ده

---

د اپریل دویمه۲۰۰۲ حیات اباد پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵

خو ډېر افسوس چې نن هم هغه نغمه
زمــوږ پــه خيال د اوريدلو نه ده
مــوږ د پــرديــو تــراني خــوښــوو
لنډۍ تپــه مــو د ويــلــو نــه ده

---

د اپریل دویمه۲۰۰۲ حیات اباد پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

واک د خپل وجود په سلطنت راکړه
کلکه اراده او ټينګ همت راکړه

و مې باسه زړه نه د شيطان وجود
ښکلې مقدسه شرافت راکړه

مينه دې وي شوق دې وي مستي خو هم
دې سره احساس د ښکلي نيت راکړه

وي چې د غريب ولس په غم خفه
دا رنګه لاربنود د قيادت راکړه

سم چې کړم بې لارې تول په لار د ژوند
داسې دبدبه او کرامت راکړه

وي چې د جنت په شان د امن ژوند
ما ليکوال ته دلته هم جنت راکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

د تیــارې د کـلي خلک روڼ سهار په کانو ولي
مــړه کــوي بـل څراغونه هر سنګار په کانو ولي

دوی زما خوشال محفل ته تور غمونه راوړي راشي
هــم دلــبر پــه کــانو ولي هم دلدار په کانو ولي

ورانــوي ودانــه زړونــه، نــړوي د ژوندون څــلي
ګــل بــدن پــه کـانو ولي، ګلنګار په کانو ولي

زمــوږ هـــرې کـاميابۍ ته د نفرت په نظر ګوري
زمــوږ فـــن پــه کــانو ولي هم فنکار په کانو ولي

له خدمت نه به وانخلم زه **ليکوال** سترې لاسونه
که مې سر په کانو ولي، که مې لار په کانو ولي
----------------
22/06/1999

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

په وینو سره شوه د ښایست او د ګلانو مځکه
نن په ولکه کې ده د تورو بلاګانو مځکه

ور سره مله دي زورور څکه بې وسه یمه
څنګه ازاده کړمه زه له غاصبانو مځکه

نن د ډالرو قدر کېږي خپلوان نه کوي څوک
ده قیمتي تر مور و پلار،هم تر بچیانو مځکه

تاسو افضله مخلوقات یاست، تاسو عقل لرئ
بیا ولې نه ژغورئ له ظلمه ، انسانانو مځکه؟

په شریعت کې څنګه حکم دی د چا کېدی شي
بخښنه غوارمه د چا ده ، ملایانو مځکه ؟

**لیکوال** د شرعې د انصاف هم د قانون له لارې
بیرته ګټمه زه د خپلو باباګانو مځکه

نوري به شي ستوري ************************ امیر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ٥

لکه واړه واړه سیندونه سمندر ته راځي
داسي غمونه د دنیا مې د زړه سر ته راځي

خدایا په لنډو ورځو شپو کې داسې وخت راولې
چې د کابل خلک په لوی زړه پیښور ته راځي

یتیم بچی په دغه هیله هره شپه ویدوي
مورکۍ یې وایي چې بابک به دې اختر ته راځي

یو وارې زه ور وځم مورې ما را غبرګه نه کړې
زما مین ، زما ملنګ مې د کور ور ته راځي

**لیکواله** مورېودانوو تولې ویجاړې لارې
پرهرځوان دېغ کوو که څوک و دې اشر ته راځي

---

18/02/2011اسلام ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا بـه ساتل پټ لـه ما نه ، ما کـوځه کې ولیدل
نـن مـې یاره د هر ځه د هر ځه ستا کوځه کې ولیدل

بیا یې خوار مجنون ویشتو لاسونوکې یې کاڼي ؤ
داسې ځـه کسـان مـې د لـیلا کـوځه کې ولیدل

څوک چې به زما په غم خوشاله ؤ مدام دلــته
ښــه شــو نـن مـې هغــه په ژړا کوځه کې ولیدل

کومــه تـماشــه ده چې دا ستـا له کوره نه ګرځي
ستــا هغــه شـړلـي خو مـې بیا کوځه کې ولیدل

معاف یې کړم، زاری کوي **لیکواله**، که سزاور کړم؟
دوی مې رنګېدلي لاس رسوا کوځه کې ولیدل
30/09/2001

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ماضي مې تېره شوه په جنګ کې روان حال په جنګ کې
لا به تر څو پورې تېرېږي هر يو کال په جنګ کې

وريندار دې کونډه، ورور دې مړ، کور خودې خپله وران کړ
په څه نازېږې، تا نو کوم وکړ، کمال په جنګ کې؟

سرونه غوڅ شول بې عزته شو په مرينې مړي
زمونږ د خاورې خو پېدا نه شو مثال په جنګ کې

نور را په برخه کړې د ژوند د خوشالۍ وختونه
ته مې خوندي وساتې خدايا استقلال په جنګ کې

دغه کمزوري زورور شول و د چا په مرسته
دغه نېستمن څنګه شو دومره مالا مال په جنګ کې

د سوکالۍ او د روښانه سباوون د پاره
په سرو لمبو کې به همت کوي **ليکوال** په جنګ کې

17/05/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

زما د ژوند تول ثوابونه په وبال بدل شو
پرونی ښه نېکمرغه وخت مې په بدحال بدل شو

نن يې په هرڅه کې دوران دومره بدلون راوستی
سترګې يې بدلې، ژبه بله ، هم يې شال بدل شو

سره اننګې يې د هجران بادونو تور واړول
ورسره سم يې د لنډۍ زنې شين خال بدل شو

سپينه څېره يې اوس د خاوروغوندې خړه ښکاري
د خړ خزان له سپېره باده يې جمال بدل شو

په سورکو شونډو يې هغسې تبسم نه وينم
د زندګۍ هر يو ارمان يې په زوال بدل شو

تېر کال يې داسې اداګانې او نازونه نه ؤ
را معلومېږي عادتونه يې سږ کال بدل شو

ورله سزا ورکړئ ملګرو بيا يې و نه بخښئ
که چيرته دا حساسه فکر د **ليکوال** بدل شو

---------------

01/01/2001 بوستان

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

چې دغوښتنې د خپل حق مې ترې اغاز کړی دی
هغو زمونږ هر یو بیان نظرانداز کړی دی

چې یې هر وخت ستاپایکوبي ستااستحصال کړی دی
نن دې په هغه چا باور په کوم جواز کړی دی

زما وژلو له راځي چې لاره ته ورښیې
تا خو هر وخت مدد زما د هر غماز کړی دی

اوس مې منې چې ستا له سیله سره سم راغلمه
په پرې وزرو مې له تا سره پرواز کړی دی

په ښوونځي کې یو یتیم و خپل استاد ته ویل
غښتلی زه یم د ملک پر زوی دې ناز کړی دی

راستنېدی نه شم **لیکواله** ته راځه را پسې
ما د منزل په لور سفر دور و دراز کړی دی

----------------

**08/07/2014**

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

در ته مجبور یمه په تا باندې یو کارباسمه
رقیبه تا سره به خامخا اوس لارباسمه

را ځـړوم به دې په غاړه د ځپلیو امېل
دا ستا له غاړې به د سرو ګلونو هارباسمه

که هېرېږي په اسانه په ځان زور به کوم
د یار یادونه به له زړه کرار کرار باسمه

د لیونې جانان ریښې ریښې ګریوان ګنډمه
ځکه اخته یمه ترستن د زلفو تار باسمه

د سرو لبوانو او پړانګانو تور ځنګل له منځه
**لیکواله** ځنګه به ترې روغ او جوړ ناتار باسمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

اوس به څوک لاس راکړي او څوک به مددګار شي زما
چې را پــخــلا کړي مرور او بيرته يار شي زما

خــالـقــه داســي د رحــمــت بـــاران را و وروې
چې مـــې خـــزان وهــلی ژوند بېرته بـهار شي زما

کــه مـــې لــه تـا سره وفـا ونـه کــړه ګـرانه يـاره
تـوتـې توتې دې شم ګريوان دې تار په تار شي زما

يــو ځــل بــه خـامـخـا زما اخر ديدن ته راځـي
کـه د پښو پلونه مې ثابت پاتې په لار شي زما

چې مسافر يار ته شي ياد د کـنـدهـار يـادونه
دا اننګـي مـې دې پـه شـان د سره انار شي زما

**ليکواله** دغـه تـورې شپـې خو بـه ختميږي ضرور
د ژوند پـه لاره بـه ملـګرى سپـين سـهار شـي زما

24/04/2009

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

په دې خاموشه معاشره کې یو اواز په کار دی
چې زړونه ولړزوي دا رنګه اغاز په کار دی

دغه جومات به د ولس وي د بل چا به نه وي
په ممبر ناست سړی له ما سره همراز په کار دی

کلي په کلي بندارونه ، سندرغاړي ډېر کړئ
دلته اتڼ پکار دی، ډول پکار دی ساز په کار دی

دغه ناسور له دغه کلي نه شړل غواړي بس
اوس وخت راغلی دی علاج د هرغماز په کار دی

نور ماشومانو ته په ډب باندې ادب نه ښيو
دوی ته سبق د دوی په ژبه کې هم ناز په کار دی

**لیکواله** زه له حکومت څخه ایوارډ نه غواړم
ما ته د خپل ولس د مینې ډک اعزاز په کار دی

................
25/03/2014

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ما وېل له پوهنتونه به د کار سړی راوځي
خبر نه وم له دغه ځای نه مار سړی راوځي

ترڅو چې ناپوهي وي په دې خلکو کې موجوده
په خدای که د خپل حق د پاره خوار سړی راوځي

د هغه چا یاري راته په خدای مشکله ښکاري
چې دی د ننه ناست وي پېره دار سړی راوځي

په دغه کلي خدای خبر څه رنځ دی لګېدلی
چې روغ ورلره ورشي ترې بیمار سړی راوځي

جادو دی که څه بله کرشمه ده په دې سرای کې
مخلص شي ور د ننه، خو خوددار سړی راوځي

له سپینو ځراغونو تورو زړونو که شي ستړی
**لیکواله** نو په کار ده چې ترښار سړی راوځي

توري به شي ستوري ************************ امیر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

څومره تنها شوې یو انسان لاسونه نه درکوي
نن له قسمت سره دوران لاسونه نه درکوي

تا به ویل دوی به کول چې هرڅه هرڅه ستا ؤ
نن چې بې څه شوې خپل خپلوان لاسونه نه درکوي

د مفاداتو دنیاګۍ ده ، د مفادو وخت دی
چې یې مفاد نه وي یاران لاسونه نه درکوي

تا به یې هر فرمان ته غاړه ایښوده چې دوی به ویل
نن هغه پیرا و هغه خان لاسونه نه درکوي

د بې وسۍ په دریاب ډوب یې را وتلی نه شې
دا لامبوزن ښکلي جانان لاسونه نه درکوي

یو وخت خو ته هم د ملګرو د محفل څراغ وې
اوس چې دې وینم خپل دوستان لاسونه نه درکوي

**خدای** دې سپرلی کړه اې **لیکواله** چې تازه یې هر وخت
**وب** دې وتا ته د خزان لاسونه نه درکوي

..............
**05/10/1996**

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

راشـــئ چـــې دا ځـــل لاره بـــدلـــه کـړو
لـــړ د خـــپـــل مـــنـــزل لاره بـــدلـــه کـړو

پـــوه نـــه کـــړو پـه ځان خپل لباسي دوستان
داســي پـــه چـــل ول لاره بـــدلـــه کـړو

ستـــرګـــې له قـــاتـــل دښمن نـه وباسو
لـــړ يـــې د اجـــل لاره بـــدلـــه کـړو

مســـت رقـــيـــب مـــو بـــيـــا په کلي را نشي
راشـــئ نـــن يـــې تل لاره بـــدلـــه کـړو

ســـمـــه د نـــېـــکـــۍ لار به ور وښـيـو
مـــوږ بـه د هـــر غـــل لاره بـــدلـــه کـړو

اې **ليکواله** ! راشـــه ســره يو شـو ټول
ځـــان ســـره د مـــل لاره بـــدلـــه کـړو

-----------

**12/06/2006**

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې يې چې له خپلې لارې خپل قدم شي
نو به څنګه د منزل په لوري سم شي

که د خپل ولس په ګټه تمام نه شي
درې ورې دې زما لاس او قلم شي

څو څو ځله مې ليدلي داسې خلک
څوک چې کمه د بل غوارې خپله کم شي

کاميابي د هغو خلکو وي په برخه
چې په خپله عقيده باندې محکم شي

چې د قام او د ملت په غم غمجن وي
داسې څوک تل په نړۍ کې محترم شي

اې ليکواله خداى دې داسې رتبه درکړي
چې اشعار دې د قام زخم له مرهم شي

------------
13.08.2000

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

مــــا دې د نــــظـــر تــمــاشـــه ونـــه کــړه
تــــــا د مــازيـګــر تــمــاشـــه ونـــه کــړه

نـــه پـــوهـــېـــده څـــوک زمـــا پـــه فــن څـکـه
مــــا د خـپــل هـنــر تــمــاشـــه ونـــه کــړه

شـــنـــه خـــالـــونـــه، ســور ســالـو دې څه کوې؟
يـــار دې پـــه ګـــودر تــمــاشـــه ونـــه کــړه

مـــورېـــې پـــه هـــر چـــل او دام پـــوهـيـږو اوس
څـکـــه جـــادوګـــر تـــمـــاشـــه ونـــه کــړه

وړي مــــــې قـــلـــنـــدره پـــه مـــستی دی(که
تـــــا پـــه سمندر تــمــاشـــه ونـــه کــړه)

تورې به شې ستورې ************************* امير ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو ځلې یې ګورم په اخلاص سړی
باسمه له لاسه د خپل لاس سړی

کرکه او حسد چې ور سره وي تل
باسي له ایمان څخه وسواس سړی

ګټه چې یې خوار ولس ته نه رسي
عام خلک یې څه کړي داسي خاص سړی

دا عجب دستور د زمانې ګوره
کوز باندې حکمونه کوي پاس سړی

نه راځي شعور په خپله نه راځي
ځان کې که پیدا نه کړي احساس سړی

اوس په چا پسې شم د چا لاس ټینګ کړم
نه لرم **لیکواله** د تماس سړی

---------------
12/11/2003

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

-

# مورنۍ ژبه

د فبروري یوویشتمه د مورنیو ژبو نړۍ واله ورځ

———————————

مورنۍ ژبه ، زما ګرانه ژبه
ساده ساده، ښایسته روانه ژبه
نرمه پسته، خوږه خوږه ژبه ده
ده په ویلو کې اسانه ژبه

******

لري تاریخ دا له زرګونو کلو
دا د باتورو پښتنو ژبه ده
ښکلې ، پت ، مینه، وفا لري دا
په ټول درنه زما پښتو ژبه ده

توري به شي ستوري ************************ امیر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

په بایزید روښان ، روښانه ژبه
په خوشحال خان بابا ودانه ژبه
د میرزا خان انصاري زړه ته نږدې
په دولت خان لواڼي ګرانه ژبه
رحمان بابا ورلره ورکړو ښایست
کړله حمید ماشوخېل ځوانه ژبه
څه ثاني نه لري په هند او تخار
ده د امیر کروړ روانه ژبه
دا د ملالۍ د غیرت چیغه ده
دا د میرویس او احمدشاه ژبه ده
دا مې د مینې او احساس ژبه ده
دغه د لویې پښتونخوا ژبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

لرو پښتو خويو وحدت نه لرو
د غلامانو په شان ژوند تېروو
په دې مالداره جنتي وطن کې
د دوزخيانو په شان ژوند تېروو

..........

قام چې غلام شي، نو هر څه غلام شي
ژبه غلامه شي ، تاريخ غلام شي
څوک يې تاريخ څوک يې کلتور ورانوي
اديب غلام شي، هم مورخ غلام شي

..........

له خپلې ژبې نا خبر شي خلک
د بل په ژبه او کلتور نازېږي
خپلوان يې هېر شي مشران د وطن
په بل اتل په بل جمهور نازېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

خو ډېر افسوس کومه ګراني پښتو

چې ستا صفت په پردۍ ژبه کوم

دلته څوک ستا په تکو نه پوهېږي

ستا وکالت په پردۍ ژبه کوم

..........

که هر څه زه دلته مجبوریم د وخت

خو ستا له مینې صبرېدلی نه شم

په تا به دلته خبرومه خلک

هسې خاموش پاتې کېدلی نه شم

..........

هغه کاروان سره ملګری یم زه

چې قام مې سیال غواړي تا سیاله غواړي

د نورو سیالو خلکو ژبو سره

دا ستا ویونکي باکماله غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

چې قام موسیال شي بیا به هر څه سیال شي
ژبه به سیاله شي، تاریخ به سیال شي
امام به سیال وي، هم معلم به سیال وي
ادیب به سیال شي، هم مورخ به سیال شي

---

۲۱ فبروري۲۰۰۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

کـــلـــه چـې خـبـره ځـینـې ورانـه شي روانه شي
هـــم پـــه دغـــه لړ ځـه پـرېشانه شي روانه‌شي

کـلـه چـې نـا څـا پـه ورتـه وګــورم لـه شرمه دا
مـخ پـټ کـړي پـه لـپـو سرګردانه شي روانه شي

دلــته چـې تـېرېږي اشارې کوي په مړو سترګو
ونیـسي قـدم شنـه لـه خـنـدانـــه شي روانه شي

ټـول وجود مي رېږي زلزلـه را بـانـدې را ولــي
دغـه کـېفـیت تـــه مي حېرانه شي روانـــه‌شي

راشي ملاقات لره او وخت چې د خبرو شي
بېرته په وعده باندې پښېمانه شي روانه شي

راشـــي چـې رقـیـب نـــومـخ پـه بله ځینې وا ړوي
ځـکه پـه **لیکوال** نوره هم ګرانه شي روانه شي

----------

02/03/2014

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

جادوګران کوي لګیا دي جادوګرۍ لوبې
د کلي منځ کې يې شروع کړلې کافرۍ لوبې

اوس که دي زده ده او که نه خو دغه لوبه به کړي
کنې په زور دې ګډوي په دې ظاهرۍ لوبې

مقابله يې تش په کاڼو او لرګيو نه شي
دا د بارودو په زور کېږي زرورۍ لوبې

څه شو اتڼ، نېزه بازي او د ځوانانو مجلس
محرومه کړي يو رقيب له خپلې هرې لوبې

اوس به له دغو لوبو څنګه ځان ساتو ملګرو
چې په کوڅه کوڅه کې کېږي ستمګرۍ لوبې

**ليکواله** ورکه خوشحالي شوه له وحشت او ويرې
اوس د بامونو په سر نه کوي کوترۍ لوبې

08/11/2006

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ترینه بچ دې ستا ګریوان او ستا امېل شي
په مرمیو دې زما سینه غلبېل شي

زه خو وایم چې مدام به راسره وي
خو د غم په وخت ملګري رانه بېل شي

د هغه څراغ په شان زما قسمت هم
د وصال په شپه په ده کې ختم تېل شي

راته وایي مبارک شه مورې ازاد شو
چې رانوې کله میاشته د اپرېل شي

شاعري هم عجیبه شی ده لیکواله!
ډېر سر لوړي شاعران هم په کې ښکېل شي

............
01/04/2014

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

دا چې له تا سره په څنګ روان دی
زما له دغه سره جنګ روان دی

ستا سخاوت راته مالوم شو اشنا
نهر له کلي دې ملنګ روان دی

خالق ته یې په خبر ورسوې
یار مې په لاره د ګړنګ روان دی

بې وخته مړه شوله ډیوه د محفل
ستې وجود تر پښنه پتنګ روان دی

د یو ظالم د جبر، زور له لاسه
بیا یو یتیم په وینو رنګ روان دی

که خدای کول دلته به امن راځي
لیکواله دلته یو غورځنګ روان دی

---

۱۲/۰۲/۲۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

نـور ځـــينـــي وځمــه پر ېږدمه خپل ديار له ويرې
د بـلا ګـانو لـه وحشـتـه ربـړدي ښـار لـه ويـرې

دلته چې راشي باندې ډزې کېږي ښې پوهېږې
زانې يوه يوه شي، مات کړي خپل قطارله ويـرې

تـر څـو چې پټ ساتي رازونه هم ترهغه پورې
زمـا زړګی به وي دغسې نـا کرار لـه ويــرې

د وخــت حـاکــم دي لګولي بنديزونه پر خوله
څه وکړم نه شمه کولی خپل اظهار لـه ويــرې

خاونده زړه مې کړې روښانه چې مې ژوند روښان شي
بـــا داره وســاتې لـــيـــکـوال د هـر بادار له ويرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

نه يې پرېږدي دلته په کراره د جناب خلک
څو پورې به وي له خپله ژونده په عذاب خلک

دلته جهالت منګولې ټينګې ښخې کړې دي
دلته علم نشته، دلته نه لولي کتاب خلک

ډېر دې بې ګناه د مرګ په لاره باندې سم کړلو
غواړي به اخر درنه د سرو وينو حساب خلک

ګوره د مرګونو سودا ګرو لوبه ګرمه کړه
څو پورې به وي په دې لمبو کې پېچ وتاب خلک

وخت دی بدلېدونکی تل به داسې تماشې نه وي
ستا رنګه درياب خلک مې وليدل کرياب خلک

دغه ځپل شوي به يو موټی شي ليکواله ټول
دغه مې يقين دی راولي به انقلاب خلک

توري به شي ستوري ******************************* امير ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

دغه عمل به دوی ته خپله یو وخت تېک ورکوي
چــې د زامــنــو پــه لاسونو کې توپک ورکوي

نن یوې پېغلې مشر وروړ ته ویل ګرانه لالا !
چي زما خوښ نه دی هغه ته مې بابک ورکوي

د ننګ پکاراوس درست پښتون خوشحالېږي نه ښکاري*
څوک کندهار سپاري و بل ته، څوک اټک ورکوي

یو څه چو پر په تا د دوی هم وي ضرور وهلی
څوک دي چې چالره په مفته کې کومک ورکوي

بې غــمــه خــلــک یې **لیکواله** په درد څه پوهېږي
چي پرې تېر شوی وي غم هغه ته درک ورکوي

---

• درست پښتون له کندهاره تر اټکه
سره یو د ننګ پکار پټ او اشکار

خوشحال بابا

توري به شي ستوري ************************ امير ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په زړه کې چې روان دی مسلسل بغاوت
تر هغه ډولو خطرناکه دی دا ځل بغاوت

ځکه زما د زړه ماشومې غوټۍ ګل نه کوي
اخته په جنګ یم له خزان سره مې تل بغاوت

ځکه مې نه خوښېږي ژوند د غلامۍ ملګرو
دی له ازله مې له وینې سره مل بغاوت

اوس به رقيب رانه ځان خلاص نه کړي په خواست او زارۍ
پرونی نه یم نن مې هر څه کړل بدل بغاوت

په دې وګړو کې به خامخا بدلون راولي
خپروي دلته دغه ستا هر یو غزل بغاوت

دا رقیبان دې ځکه نه پرېږدي په سمه لاره
**ليكواله** ادوی ته ښکاري ستا هر یو عمل بغاوت

---

١٨/١٠/٢٠١٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې یې اوږده شي تر خپل ذات لاسونه
د هغو خلکو دې شي مات لاسونه

کـه مـې لـه تـا سـره جفا وکـړلـه
ګرانې ! زما دې شي میـرات لاسـونه

پـه وینـو رنـګ یې د یار مخ تهورمه
ډالـۍ کـوم ورتـه سـوغـات لاسونه

هغـه سرې د ژونـد لـه کـاره اوځي
چې یې عادت شي په خیرات لاسـونه

**لیکـوالـه** څه دي چې دولت نـه لـرم
شکر لـرمـه کـرامـات لاسـونـه

---

۰۸/۰۸/۲۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

راشــه پــه تــارونــو ګــوتــې پــوري کــړه
جــوړې اې مــطـــريـه نـغـمې نــوري کــړه

وخــــت دی بــدل شــوی هــم بــدل شــه تــه
مــخ اوس د روښــان جــهــان پــه لــوري کــړه

و نـــڅـــوه مــست شهــبــاز پــه زيــراو بــم
هــيــلې مــې پــه خوږ زړه کې سمسوري کــړه

وږغـــوه سُـــر کـــړه چـــنـدنې رباب
لـــږ رانــه غــمـــونـــه دلـې دوري کــړه

تــــرنـــګـــه سره سم چې په نڅا شي تول
داســي د **لـــيکوال** د غـــزل تـــوري کـــړه

ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

## ځوانه دا څه کړې ؟

دا د تيارو لاره ده

دا دې تيارو له بيايي

دا دې ژوندون ورانوي

دا دې خوبو له بيايي

******

ځوانه دا څه کړې

نشه ځله کوې

******

ولې تنګ سينې ته

تراخه لوګي کوزوې

ولي حساس وجود ته

دا بې حسي کوزوې

ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ولي روښان سهار
په تورو شپو بدلوي
ولي خوږه زندګي
په ترخېدو بدلوي

...

هر وخت نشه نشه يې
چې جګېدلی نه شي
هر وخت له ځانه ورک يې
په لاره تللی نه شي

...

هغه درنه ځواني دې
څومره بې توله شوله
هغه ښايسته څېره دې
څومره بې خوله شوله

ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

هغه خوږې خبرې
دې شوې ترخې خبرې
بې له مقصده کوې
کړې ورې خبرې

ولې ژوندي شعور ته
مرګ په لاس خپل راولې
ولې تيارو له دروغې
ځان له اجل راولې

کله دې سترګې سرې وې
کله غصه غصه يې
کله له ځانه ورک يې
دا چې نشه نشه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

د کشرانو مینه
د مشرانو قدر
هیڅ درک نه درکوي
نه د خپلوانو قدر

نه ښه ملګري لري
نه په ورورۍ پوهیږي
نه دي څه لا رمعلومه
نه په سیالۍ پوهیږي

ښکلې ځواني دې ځارشم
ځوانه لږ ماته غوږ شه
دا تماشې څه کوې
ګرانه لږ ماته غوږ شه

ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

بس کړه نور بس کړه ځوانه
زندګي مه ورانوه
په دې نشو تماشو
دې ځوانۍ مه ورانوه
ـــــ
ځوانه له تا نه خلک
ډېر امېدونه لري
دوی د روښان سباوون
ډېر ارمانونه لري
ـــــ
نور بې حسي نه تېر شه
دا خپل ځان وپېژنه
پټ د دوستۍ جامه کې
دښمنان وپېژنه

ا

(c) ketabton.com: The Digital Library

o

دا ستا گل رنگه ځواني
د دوی اغزي لاسونه
دا ستا معصومه وجود
د دوی قوي لاسونه

---

نور يې ملګری نه شې
نور يې ياري مه کوه
نور يې محفل نه وږځه
نور يې دوستي مه کوه

---

دوی دې احساس قتلوي
په ژوندون مرې دې غواړي
د ژوند په هر ميدان کې
اې ځوانه پرې دې غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

پرېږده دا تول ملګري
چې ستا عزت نه غواړي
چې تا تيارو له بيايي
ستا لياقت نه غواړي

نوخکه وايي ليکوال چې:

راشه د قام بچيه
د قام په لاره سم شه
د هر طوفان و مخ ته
مضبوط ولاړ محکم شه

—

چې ستا ژوندون ورانوي
هغه لاسونه مات کړه
چې تا تيارو له بيايي
هغه جامونه مات کړه: ۲۰۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

امـن بـــه راشـي مـــدام جـــنــګ بـه نـه وي
واک پـــه هـېـواد کـې د اورنـــګ بـه نـه وي

هـــر څـــه بـــه کـــېـږي د جـرګـو لـه لارې
نور دا د سپيـــنو تـــورو شـــرنـګ بـه نـه وي

چـا ويـل تـل بـه وي سـرې سـانـدې د غـم؟
شـــرنـګ د بنګـړو بـوی د لونګ بـه نـه وي

زمـا جـانـان بـــه وي زمـــا پـــه خـوا کـې
روان د تـــور غـمـــاز تـر څـنـګ بـه نـه وي

دا انـسـانـان بـه تـرېـنـه نـــه وېرېږي
بـــلا بـــه وي خـــو پـه بـد رنـګ بـه نـه وي

وي بـــه صـفـا لـه نـفـرتـونـو څخـه
د لـيكـوال زړه نـيـولـی زنـګ بـه نـه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هيڅوک خبر نه شولو په حال زما
تېر شو په غمونو کې تېر کال زما

ورانې خونې چو په چپايي ده اوس
چېرته لاړو هغه کليوال زما

پرې به نړدم هغه په کراره نور
چا چې وي وران کړی استقلال زما

ہم تمہارے موت ہے، د شپې يو چا
ؤ نوشته کړي په دېوال زما

اوښکي د **ليکوال** په بل څه نه دري
يوسئ ورته دا د لاس دسمال زما

-----------

۰۱/۰۱/۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

شي چې په سخت ساعت کې شل لاسونه
څه کوم دغه رنګه مل لاسونه

لمحه لمحه مې ځنکدن تېرېږي
را غځولي دي اجل لاسونه

خپل انتقام به هم له تا نه اخلم
که مې روغ پاتې شول دا څل لاسونه

په پردي جنګ او په پردي غوبل کې
عالمه مات شول د کابل لاسونه

ژر به دې خاورې شي ګل رنګه ځواني
چې دې خزان ته ور کول لاسونه

لیکواله څه ګیله له نورو کوې
ن دښمنان دي د رته خپل لاسونه

-----------

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

په کې نفاق راشي د ورونو تر منځ کرکه راشي
د کور خبره چې د کلي تر ملکه راشي

مورې چې هر څه کوو خو دی به په کې کار ونه لري
داسي سرې خو دې محفل لره بې شکه راشي

لکه ناکامه مئين اوس هم په دې تمه يمه
وايم چې نن به ملاقات لره نازکه راشي

زما او ستا تر منځ دې دومره بېلتون هم نه راځي
لکه د لمر او د سپوږمۍ تر منځ چې ځمکه راشي

کله چې زه له خوبه وتوخم يا وربغبرېږم
ناروغه مور مې په رنځور وجود چابکه راشي

**ليکواله** ! کار کوه د ژوند ، خو له يارانو سره
خانده مجلس کوه بيا دغه وخت ولکه راشي*

*والله که

06/08/2014

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

-

زمونږ په ژوند زمونږ میراث بل ته سپاري اخته دي
دغه سرې د چا په خوله په دې خواري اخته دي

د ژونـــــد لــه لارې مې نن اړوي د مرګ په لوري
پـــه بـــې دردۍ مـــو حسـرتونـه قتلوي اخته دي

دورانه ته یې، که قسمت دی، که مونیت داسې دی
یو څوک خو شته چې موهر کله څوروي اخته دي

زمــونږ ارمــان، زمونږه مینه او مونږ واړه وژني
زمونږ جانان زمــونږ له غېږې بېلوي اخته دي

لــیکــواله ! مړه اورونه بېرته بلول غواړي دوی
د جنګ سکروټو ته چې بیا پوکې وهي اخته دي

-----------

18/01/2000

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

رقیـب ظالـم دې پـه کراره دلـتـه چیرې پربېږدي
سم دې روان د ژونـد پـه لاره دلته چیرې پربېږدي

ستـا پر صفا لـمن داغـونـه لګول غــواړي دوی
بـې لـه تـهمتـه دې فنـکاره دلته چیرې پربېږدي

مینه دې ورانه غواړي څکه ماتول غواړي اوس
روغــه دا ستا د زړه هینداره دلته چیرې پربېږدي

د تــورو شـپـو مـلګـري خلک رڼاګانې وژنـي
د ښـوې روښــانــه تـر سـهـاره دلـتـه چیرې پربېږدي

دوې ورځې ژوند دی اې لیکواله څکه پام کوه د ښر
مرګ دې ژوندی د تل د پاره دلته چیرې پربېږدي

------------

---------

توري به شي ستوري ************************** امير ليکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

دځان ارزښت ځان ته مالوم کړه ټول جهان وګوره
په کې لار ولټوه ګټه او تاوان وګوره

که ته ګلاب یې خو د خاورې دعوه مورې هم لرو
بغیر له مورې نه خو ته څه نه یې لږ ځان وګوره

خالق تخلیق د دې نړۍ څومره ښایسته کړی دی
ښکلی نظام د کائنات د پاک سبحان وګوره

چې نافرمانه د خپل رب شو، هم له هغه وخته
له آدم ذات سره په جنګ لعین شیطان وګوره

**لیکواله** غر څه دی آسمان هم ور ته لار ور کوي
کرامتونه په نړۍ کې د انسان وګوره

-------------

**04/03/1997**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــوره بـــلا ده د رڼـا پـــه نـامه ژوند تېروي
زمـــوږ پـــه ښار کې د ښکلا په نامه ژوند تېروي

خـــپله نـه تنګ لري نه مینه نه پښتو دغه ځوان
هســـي لـګیـا دی د بـابـا پـه نـامـه ژوند تېروي

که یو څوک لاس در باندې تم کړي نو یې مه غورځوه
غریب مجبوره دی چې ستا په نامه ژوند تېروي

دلته خوهرچادی خپل ځان ته خپل خپل پیر تاکلی
دلتـه خو هر څوک د یو چا پـه نامه ژوند تېروي

یو څوک هم داسې شته لیکواله په وجود کې زما
پـه زړه کې اوســي او د ساه په نامه ژوند تېروي

----------

18/07/2005

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ښکاري راغلی نن اجل دی زما
روح په کې شته خو وجود شل دی زما

مرسته د خپلو خلکو څنګه وکړم؟
اختیار په کلي کې د بل دی زما

دا ستا د سپینې خولې غل زه یم ګرانې!
تا چې ساتلی دی دا پل دی زما

که خدای کول په رسېدلو یمه
د پرنیژدې شوی اوس منزل دی زما

په کې مونډلی شي ښکلا د ژوندون
لیکواله! دا رنګه غزل دی زما

..............
13/11/2009

(c) ketabton.com: The Digital Library

# « افغان ماشوم »

دا ستا ماشوم نازک لا سونه
د سوځولو ، سوځېدلو نه وو
دا ستا روښانه او معصومه تندی
د ښکلېدو وو ، ماتېدلو نه وو
.....
ستا په ماشومه او نازکه سینه
کې نن حالاتو پرهرونه جوړ کړل
ستا مشرانو لباسي خپلوانو
تا ته بلا غوندې مخونه جوړ کړل
.....
تا کله مینه هم لیدلې نه ده
ستا په زړګي کې نفرتونه اوسي
تا د ادې غېږه لیدلې نه ده
ستا په زړګي کې ارمانونه اوسي

تورې به شي ستورې ************************* امیر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

o

تا د بابا خوږې خوږې خبرې
په خپل ژوندون کې اورېدلې نه دي
تا ته په مينه او د زړه له کومې
هيڅا په ورين تندي خندلې نه دي
.....
تا محبت تا به ګلونه غوښتل
دوی به په لاس کې بل اورونه درکړل
چې ستا د ژوند دليک اولوست ورځې وې
دوی به بمونه ، توپکونه درکړل
.....
چې ستا د لوبو د کولو وخت وو
دوی به مورچل دوی به سنګر ته بوتلې
چې ستا د تال د زنګېدلو وخت وو
دوی به د جنګ وجوړ محشر ته بوتلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

تا هم په دې خپلو ورو لا سونو
بې ګناه څومره انسانان وویشتل
په څومره کرکه دې کتل ورته تا
د بل د پاره دې خپلوان وویشتل

.....

لا دې د خپلو ارمانونو قاتل
تر اوسه پورې پېژندلی نه دی
دا ستا رقیب ستا لباسي ملګری
تا لا په خپل تول کې تللی نه دی

......

نن دې پښې ماتې هم لاسونه مات دي
په شل وجود خو جنګېدلی نه شې
د بې وسۍ غشي دې زړه کې ښخ دي
په هيڅ هنر يې را يستلی نه شې

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ګرانه په دې جنګونو څه جوړه شوه؟
بې ګناه هسې ډېر سرونه لاړل
ډېرې ښایسته ځوانۍ شوې تورې خاورې
په کې مضبوط مضبوط لاسونه لاړل

******

راځئ چې هغه دښمن و پېژنو
چې ماتول غواړي زموږ لاسونه
راځئ چې هغه مړوندونه مات کړو
چې ورانول غواړي زموږ کورونه

12/02/1996

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

قسمته زه دې په لار سم نه کړمه
د وخت و مخ ته دې محکم نه کړمه

دار ته به وخېژم په پاکه مینه
خو رقیب ته به سر خم نه کړمه

د تورو زلفو مار دې و خوړمه
د سپینې خولې په باد دې دم نه کړمه

سوچ ورته وړی یم په کومه لاړشم
وایم چې چپ دا خپل قدم نه کړمه

چې نړېدمه بې اختیار په مخکه
په خپله غېږه کې دې تم نه کړمه

خپل سر به ور کړمه په عشق کې خوزه
دا ستا له مینې به قسم نه کړمه

لیکواله لاس کې یې وسله راکړله
پوه یې په ګټه د قلم نه کړمه

---

02/04/1996

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

د زړه له تله نه ده، دا د مجبورۍ خندا ده
څه وکړي وخت پرې تېروي د ناچارۍ خندا ده

لا مې هغه رنګه په خيال کې مقرره راځي
لا مې هغه رنګه په خيال کې دنجلۍ خندا ده

زما په کلي کې محشر دی وجودونه سوځي
ستا لا هغه د تکبر او مغرورۍ خندا ده

هغه چې اوښکې پاکوي له مجبورۍ ګډېږي
ظالمه ستا ورته په شونډو د ځوانۍ خندا ده

ما بې د غمه په خپل کور کې بل څه ونه ليدل
خو په ګاونډ کې مې هر وخت نرۍ نرۍ خندا ده

**ليکواله** ياره کليوال يې چې غلط دي نه کړي
د ښار د خلکو دروغژنه بازارۍ خندا ده

15 / 05 / 2002

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

بیا مې یو نوې منصوبه کړله اغاز په زړه کې
دا ځل به غشي ښخومه د غماز په زړه کې

چې د وحشي مارغانو سترګې په منګول کې راوړي
وداسې ښکارته مې ساتلی دی یو باز په زړه کې

چې مې هر وخت روح او وجدان تازه تازه وي دواړه
خاونده ته مې کړې د عشق زنی ښېراز په زړه کې

که په کې مېشت شې، اندازه به در ته ولګیږي
چې څومره مینه لـرم، څومره لرم ناز په زړه کې

**لیکواله** ښکاري هغه څوک هم درنه لار ببلوي
د چا له وجې چې دې روح کوي پرواز په زړه کې

03/09/2011

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ولس اوس هر څه ته تیاردی چې نور زور وانخلي
دې سرو بڅرو تـه پوکي مه وهه أور وانـخلي

هـغــه بــه څه رنـګه پــه عشق کې تر منزله رسي
چې د خپل یارپه سردتول کي پــېـغور وانـخلي

د رغــېدلـو نـه وي هــغه بـه نـاسور شي ضرور
که دې د زړه زخم په وخت باندې ټکور وانخلي

پــه هـغــو خلکو افـریــن وایم چې وس هـم لري
بـیا هم بخښنه وکړي دوی د مړي پور وانـخلي

دغـه فـطرت دی خـامـخا سړي تــه زړه ورلږ شي
دمصیبت په وخت که بار درسره ورور وانخلي

**لیکواله**!داسي ګډوډي ده چې هر څه یې وران کړل
د پروارخطایمه څوک ستادسترګو تور وانخلي

09/12/2009

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

يــو ګل خو مې ځـاى كـړه په سينه كـې زړه
پـروت دى ستـا د زړه په دروازه كـــې زړه

ورک مــــې د خـــپـــل ځان په تـماشه كې كړي
بـــيــا راځـخــه يــوسي پـــه دوكـــه كې زړه

خـــلـــک ورلـــه سـور يـا سپين ګلاب وركړي
ما و يـار تـه ور كـړ، پـه تـحـفـه كې زړه

لاړ شـــه مــحــبـت در ســره نـــه كـــوم
واچـــومـــه ولــــــې پــــه لانجه كـې زړه

څـنـــګـــه يــې دا ستـــا لـــه ميني صبر كړم
نـه لـرم لــيكـوالـه ! پـــه ولـــكـه كې زړه

---

۰۵/۱۱/۲۰۱۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

چې لـه کـورونـو څخه توري سترې ونه باسئ
لا یو جنګ پاتې دی اغوستي زغرې ونه باسئ

چې مشرانـــو ویـــل یو شئ او ځــــان وپـــېـــژنئ
اوس لـــه غـــورېـونـو نـه هـــغه خبـرې ونـــه باسئ

چې د وحشي مارغانو راج وي د بامونو پر سر
تـــر هـــغه وختـــه لـــه کـلا کـوتـرې ونه بـــاسئ

یو وخت به روغ شي، له خپل سیل سره به سم والوزي
زمـــا د خـــیـــال د تـــپـــي بـــاز وزرې ونه باسئ

پرېږدئ چې دوی هم د اورونو تماشې وګوري
د دوی لـــه کلي نه د اوربـــڅـــرې ونـــه باسئ

------------------

۱۵/۱۰/۲۰۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس خو د جنګ د پاسه جنګ دی خدایه
وطن په وینو باندې رنګ دی خدایه

هغه د کلي مخور وګړی
نن خېرات خوره دی ملنګ دی خدایه

دسمال په لاس کې اتڼونه به ؤ
اوس د هر ځوان ټوپک په څنګ دی خدایه

سهار ماښام ماتم ماتم وي دلته
ژوندون د هر وګړي تنګ دی خدایه

ورته حیران یمه په کومه لاړ شم
یو خوا ته پړانګ بل خوا ګړنګ دی خدایه

ته یې صفا کړې د رحمت په اوبو
د لیکوال زړه نیولی زنګ دی خدایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

# شراب دي لري کړه

---

لري کړه ساقي شراب دي لري کړه

زه د شرابونو مستي نه غوارم

مه راکوه ما ته د شرابو جام

زه واره غمونه په سر ورلی شم

زه دا تکليفونه پر سر ورلی شم

زه خو د نشو محتاجه نه يمه

زه د شرابو محتاجه نه يمه

ستا د دې جامو محتاجه نه يمه

لري کړه ساقي شراب دي لري کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

زغم لرم ،یقین لرم ،جذبه لرم

نه غوارم له تا نه مرسته نه غوارم
دلته له هیچا نه مرسته نه غوارم

زه دا ستا نیکۍ او احسان نه غوارم
زه دا خمارونه مستي نه غوارم
زه داسي ګنده بې خودي نه غوارم

لري کړه ساقي شراب دي لري کړه

مه غلطه وه دغه تنکي ځوانان

پرېږده چي ژوند تېر کړي د زلمو په شان
و ځلېږي دوی د څراغو په شان

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

و خندوي دا خفه خفه خلک

وېښ کړي له مودو وېده وېده خلک

ځان لره چې خپل کړي بېګانه خلک

I

لري کړه ساقي شراب دي لري کړه

مه يې سروه دغه توده جذبه

ځوانه ده په جوش کې ده، دده جذبه

پرېږده چې غوتۍ يې ګل ته ورسي

ورسي و خپل درشل ته ورسي

پرېږده چې وخپل منزل ته ورسي

لري کړه ساقي شراب دي لري کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

سم په نیکه لاره شي سړی شي دی

پرېږده چې د مور او پلار خدمت وکړي
وکړي دی د هر ساه دار خدمت وکړي

تېر کړي د انسان په طریقه ژوندون
وښيي هر چا ته ښایسته ژوندون
لرې کړي له غمه دا خفه ژوندون

لرې کړه ساقي شراب دې لرې کړه

زه د شرابونو مستي نه غوارم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرسیده لاره مو لویه خدایه سم کړې
د نړۍ د طوفان مخ ته مو محکم کړې

د ځوانۍ ګلان مې مړه نه شي ځوانۍ کې
د خزان وحشي بادونه را نه تم کړې

خوشحالۍ او نېکمرغۍ کړې را په برخه
هم مو لرې د زړګي نه هر یو غم کړې

هر مزل راته آسانه د منزل کړې
برابر مو د پوهانو پر قدم کړې

د لیکوال د شعور ژبه دې ژوندۍ وي
هر یو تکی یې ویانده د قلم کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

بیا یې پر سینه باندې پراته پردي لاسونه دي
څنګه یې ترې پورته کړمه ډېر قوي لاسونه دي

بېل خاصیتونه مې په هر وجود کې ولیدل
ګل غوندې وجود سره اغزي اغزي لاسونه دي

څو دې ازمویلی نه وي لاس د مینې ور نه کړې
دلته ډېر غلط دي خو بس لږ صحي لاسونه دي

بیا به رڼا جوړه شي دا توره شپه به وشړي
پورته و دعا ته نن د هر بچي لاسونه دي

ښه راته مالوم دي ګرانه ډېر ښه سره پېژنو
ستا په بربادۍ پسې د کوم سړي لاسونه دي

مرسته دې جانانه څنګه وکړم په زخمي وجود
پورې په زخمي وجود مي دوه زخمي لاسونه دي

زه لیکوال دا خپل هنر یو لویه سرمایه ګڼم
څه که مې په تن پورې خالي لاسونه دي

-------------
18/05/1997

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

چې دردونه سره یو شي او غمونه سره مل شي
هر یو ږغ چې فریادي شي هلته جوړ ترېنه غزل شي

له یارۍ او دوستۍ ووځي نه د تنګ شي نه د جنګ شي
بې عزته وي په ژوند کې څوک چې خپله د کوڅې غل شي

ښه کوه ښه به دې مله وي او د بدو پای خراب وي
هغه څه به درسېږي چې دې څه رنګه عمل شي

هلته دوی ته به ورياد شي چې غربت او نېستي څه ده؟
چې یې وران شي محفلونه خاورې خاورې یې محل شي

بیا به غواړې دا وختونه بیا به دا وختونه نه وي
چې دوران د ځوانۍ تېر شي تور وېښته په سپین بدل شي

د **لیکوال** بد بختي ګوره چې و چا لره زړه ورکړي
هغه څوک د بل په خوله شي هغه څوک اخر د بل شي

توري به شي ستوري ***************************** امیر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

زړه مـي د امـېـد و قـيـادت ته ماته ورکړله
عـقـل مـي د ژونـد وعـدالت ته ماته ورکړله

ومـې ورول بـې انـتـهـا غـشـي د ده پـه زړه
ځـکـه مـي د ده و هر قوت ته ماته ورکړله

دا د ده وکـيـل ورتـه د ګـټـې زېرى ورنـه کړ
مـا د ده وکـيـل او وکـالـت ته ماته ورکړله

مـا مـدام د هر سړي پـه زړه کې ځـايـولو ځان
دغـه زمـا مـيـني هر نـفـرت تـه ماتـه ورکړله

مابـه درتـه تـل ويـل لـيـکواله چې همت غواړي
ګوره ستا غريت د ده دولت ته ماته ورکړله

(c) ketabton.com: The Digital Library

○

مـا د زنـدګـی د وجـود هـر اندام لـیدلی دی
ما د سپین سهار په غېږ کې تور ماښام لیدلی دی

زه د دې ملګرو له هر چل سره اشنا یمـه
مـا د مـلـګرتیا د هر آغاز انجام لیدی دی

مـا تـر نقابونو لاندې تـور مـخونه ولـیدل
ما د دوی په یورنګ کې بل رنګ مدام لیدلی دی

مـا چـې بـه یـې هـر کـله وه تاته صفتونه کړل
مورې نن مې هغه څوک په سر د بام لیدلی دی

مـاد ډېرو زړونه و خپل زړه ته را نږدې کړلو
ما په ډېرو زړونو کې یو عکس خام لیدلی دی

مـا د دوی په شونډو لـباسي تبـسم ولـیده
ما لـیکوال د دې مسکا و شا ته دام لیدلی دی

تورې په شې ستورې ******************************** امیر لیکوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

O

ستا لا په زړه کې نفرتونه او جفا پرته ده
که وفا څه هم په نړۍ کې شاوخوا پرته ده

ملګرې راشه چې د کور او ملت خیال وساتو
څه د ستم توره بلا په ما و تا پرته ده

مورې خو د داسې بادارانو سلامي نه کړو
چې یې تیاره زمورې د کلي په رڼا پرته ده

ستا د هر بد عمل سزا به در له درکړو یو وخت
لا خو مړه نه یو په وجود کې مو څه سا پرته ده


تر خپله کوره پورې هم په ویره ویره ورځو
دلته په هره یوه لاره کې بلا پرته ده

لیکواله څله مو د ژوند په لاره نه پرېږدې دوی؟
زمورې د پاره ولې مرګ غوندې سزا پرته ده

---

21/10/1996

(c) ketabton.com: The Digital Library



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**